مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۲۱/۰۱/۰۵

# د علامه اقبال ځلوريځي

لسمه برخه

طارق چو برکنار اندلس سفینه سوخت
گفتند کار تو به نگاه خِرد خطاست
دوریم از سواد وطن باز چون رسیم؟
ترک سبب ز روی شریعت کجا رواست
خندید و دست خویش به شمشیر برد و گفت
هر مُلک مُلک ماست که ملک خدای ماست

چي طارق د اندلس خاوري ته وخوت
پر ساحل چي يي جنګي بېړۍ سوځلي
يو په يو ورته ويله جنرالانو
چي دا لار د عقل کورته نه ده تللي
بيا به څنګه ځو تر خپل وطن او کوره
بله لار وطن ته نه ده ورغلي
له اسباب څخه ځوک څرنګه لاس اخلي
شريعت هم دغه لار نه ده منلي
طارق وخندل او توره يي کره پورته
پاس يي وکتل د شنه اسمان و لورته
ويل ټوله نړۍ ملک زموږ د څښتن دی
هره لوېشت په دې نړۍ کي زموږ وطن دی

****

دِل ملا گرفتار غمی نیست
نگاهی هست در چشمش نمی نیست
ازآن بگریختم از مکتب او
که در ریگ حجازش زمزمي نیست

****

د مُلا زړه ته چي ګورم ورسره د چا غم نسته
لري دوی سترګي په سر کي خو د سترګو يي نم نسته
ما د ده مکتب پرېښود ځکه تښتم يي له څنګه
چي يي وچ رېګ د حجاز دی پکښي څرک د زمزم نسته.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په ځير و لولـئ